# د ژبې په حقله نظريې

## *Theories of language*

Rahim Bahadar* rahimbahadar@gmail.com
Prof. Dr. Rooh Ullah** roohullah@uop.edu.pk

**Abstract:**

Language is the main source of communication, it is God gifted to creatures. They can convey their messege, feelings, sensation, emotions, thoughts and ideas through various mode of communication. In relation to human being it is highly developed form of language, it can be spoken, written or signed symbols. Language is the key point of human identity, social interaction and cultural norms. Communicating with others we feel relax, satisfied and happy. Every language has its own set of rules, symbols and vocabulary. All languages serve essential objectives needed for the community. Approximately 7000 languages are spoken all over the world. There are different theories about the origin of language. These theories aim to explain how languages is acquired, developed and used by human being. This paper will explore the major theories of language such as scientific or evolutionary, religious, behavioristic, gesture, musical and inspirational. Each theory contributes to our understanding, development, highlighting the complex relationship between mind, society and communication.

Keywords: ***Language, communication, sensation, symbols, cultural, evolutionary, behavioristic, gesture, inspirational.***

* PhD Scholar, Pashto Department, UoP
** Professor/Chairman, Pashto Department, UoP

ژبه:

په نړۍ کښې بې شمېره ژبې وئېلے کېږي. ژبه د انسان پېژندګلو ده. د ژبې په برکت انسان په نورو ساه لرونکو مخلوقاتو باندې الله پاک غوره کړے دے. هره ژبه د خپل اولس او ټولنې د پیاوړتیا او شتمنۍ سوب ګرځي. د نړۍ هاغه خلق مخ په وړاندې تګ کولے شي ځوک چې خپلې ژبې له وده ورکوي. په کومه ژبه چې کار ونهٔ شي هغه شاړه پاتې شي او ډېرکر ته یې نخښې د خلقو د لاسه اوځي.

"ژبه د انسانانو ترمېنځه د تعلق جوړولو یوه وسیله ده چې ټولنه په خپل مېنځ کښې د راټولوي. دا د ډېرو مقصدونو سر ته رسولو یوه اله ده" [1]

"د وېلو او اورېدلو د انساني اعضاؤ پهٔ اړ د آوازونو او غږونو د رسولو یو داسې نظام چې د یوې ټولنې خلق یې د خپلو روایتي او اختیاري معنو له پکاروي ژبه بللے شي" [2]

"ژبه د یو شمېرنطقي اوازونو مجموعه ده چې پکښې د اظهار په غرض تنظیم پیدا کولے شي"[3]

ددې نه دا خبره څرګنده شوه چې ژبه د انسانانو په خپل مېنځ کښې یو بل ته د خپلو احساساتو، جذباتو، نظریاتو رسولو یوه کوټلې لاره ده.

د ژبې په حقله نظریې:

د ژبې د پیداوښت په حقله ژبپوهانو خپلې خپلې نظریې وړاندې کړې دي چې په دوه غټو ډلو کښې ویشلے شوې دي. مادي او روحاني.

**الف: ارتقائي یا سائنسي نظریه:**

ژبې د ارتقائي سفرونو نه راتېرې شوې دي. د وخت، حالاتو، تهذیبونو، معاشي او معاشرتي پېښو له کبله پکښې بدلون راغلے دے. ژبې د یو بل سره د یو ځاے کېدو نه دوام موندلے دے. کله حالات داسې راغلي دي چې د ډېرو ژبو نه یوه نوې ژبه په وجود کښې راغلے ده. ژبې بنه فراخه او ارتې لمنې لري په دوي کښې د بلې ژبې نه د اثر اخستلو، د الفاظو د چوڼ کولواو د ویونکو د ضرورتونو د خیال ساتلو لچک موجود وي. ددې نظریې د پلویانو دا خیال دے چې ژبه هم د دې عملونو له کبله په وجود کښې راځي.

ب: توراتي یا مذهبي نظریه:

ددې نظریې په لړ کښې دا خبره د فکر وړ ده چې ژبې د یو داسې ذات له اړخه انسانانو ته ورکړے شوې دي کومې چې د هغو په سرشت کښې اغېزلې وي.

"په پېل کښې دا یوه ژبه وه ولې په انسان کښې د غرور او نافرماني کولو له کبله الله تعالي دا انسانان په یو شمېر قومونو او ډلو کښې اوېشل، دوي له یې د دوي د غرور ماتولو په لړ کښې ژبه هم ماته کړه" [4]

د ژبې په حقله نور نظریات په دې ډول دي:

بو ــ وؤنظريه:

"د ژبې په حقله د "بو- وؤ" نظرئې پلويان وائي چې انسانانو ژبه د ځناورو د اوازونو نه د پېښنو په ډول ذده کړې ده" [5]

ددې نظريې نه دا خبره په ګوته کېږي چې د انسان نه وړاندې هم په مخ د زمکه نور مخلوقاتو وجود لرلو ولې الله پاک د ټولو نه غوره مخلوق انسان پيدا کړے دے. دا خبره مازغه نۀ مني چې څنګه يو غوره مخلوق د ځناورو د اوازونو نه نقل اوکړو.

**پو - پو نظريه:**

"د "پو- پو" نظريې منونکي دا خبره کوي چې انسان د غم او خوشحالۍ په وخت کښې کوم اوازونه پورته کوي ژبې ددې نه دوام موندلے دے او وسني حالت ته راغلې ده" [6]

دا خبره هم د باور وړ نۀ ده چې ژبه ددغه اوازونو د راپورته کېدو نه مخ په وړاندې لاړه هغه ځکه چې اواز هم يو غږ دے او چې غږ د وړاندې نه وجود لرلو نو ثابتوي چې ژبې د وړاندې نه وجود لرلو. دغه شان د خوشحالۍ او خفګان په وخت يو څو توري يا ټکي وئيلے کيږي کومې له چې مونږ د ټولې ژبې درجه نه شو ورکولے.

ټن ټن نظريه:

"د "ټن ټن" نظريې منونکو په حقله انسان په اوله کښې چې د کوم شيانو کتنه کوله په دغه وخت کښې د دوي د خولې نه به اوازونه وتل. دغه شان دا اوازونه د دغه شيانو نومونه جوړ شول او ورو په رو ژبه په وجود کښې راغله" [7]

د هر انسان سوچ او فکر د يو بل نه بدل وي. په دې لړ کښې هغه له چې مخې له کوم شيان راځي د هغې غږ او اواز د نورو انسانانو نه په توپير سره کيدلے شي. که چرې داسې وي نو بيا به ژبه بې شميره غږونه او اوازونه ولري چې د انسان په وس کښې به نۀ وي.

هائي سو نظريه:

"د ژبې د پېداوښت په حقله يوه بله نظريه "هائي سو" ده" [8]

ددې نظريې منونکي په دې خبره باور لري چې کله انسان د يو کلک او سخت کار سره مخ شي په دغه وخت کښې طاقت او قوت راغونډولو له چې کوم اوازونه اوباسي لکه هائے، هو او داسې نور. دا اوازونه په بنيادي توګه د طاقت اظهار کوي ولې د ژبې په وېنا کښې خپل کار لوبوي. په پېښتنې ټولنه کښې ډېر کارونه په اشر غوبل او شريکه سره سر ته رسي. په ستغ او ګران کار کښې ټول خلق رايو ځاے شي، په شريکه سر ته رسولو د پاره يو بل سره کومک کوي. ددې کومک په دوران کښې ددوي د خولې نه د اجتماعيت يو اواز راوځي لکه " اے هم" " اے هو" او داسې نور. ددې اواز مقصد په وجود کښې توان او طاقت راټوکول وي. په دې سره دا خبره هم څرګندوي چې که ددې غږونو د ژبې په پېداوښت کښې کردار نۀ وي نو خلق ئې بيا ولې کوي. يوه اهمه خبره پکښې دا هم کېدے شي چې دا خو په شمېر يو څو غږونه دي. ددې نه ټولو ژبو دوام څنګه اوموندو.

د اشارو نظریه:

"په دې لړ کښې یوه بله نظریه د "اشارو" نظریه ده" [9]

ددې نظريې پلویان په دې خبره په یوه خوله دي چې د وېنا نه وړاندې خلقو یو بل ته خپلې د زړه خبرې د اشارو په اړ رسولې. انسانانو ډيرې اشارې د ځناورو نه ذده کړې دي. اشارې د ژبې په پرمختګ کښې لوے کار لوبوي. ډېر کرته انسان د اشارو په ژبه ډېر زر پوهه شي ولې هر کار او عمل له ځانګړے اشاره سازول ستغ عمل وي. وئيلے شي چې ټوله ژبه د یو څو اشارو نوم نه شي کيدلے. په اشاره کښې خبرې کول خو یا د هغۀ خلقو کار وي کوم خلق چې د ګويايۍ د حس نه محرومه وي هغۀ مونږ ټول په ټوله د ژبې بنياد نۀ شو ګرځولے.

د موسيقۍ نظریه:

ددې نظريې لاندې انسانان د خپل زړۀ اوازونه د موسيقۍ په ښائسته ډول وړاندې کوي. حب جمال د انسان جبلي خاصه ده. چې هر ښائسته شے خوښوي. خواږه اوازونه پرې سم لګي. د موسيقۍ په نظریو کښې د رباب ټنګ، د ډول ډنګ، د پانزيب شړنګ او د شپېلۍ غږ داسې اوازونه دي چې خپل يو وجودي حېثيت لري. په دې اوازونو د هنرمند نه علاوه ډېر لږ خلق پوهېږي کوم چې د اولس مجموعي ژبه نه شي کيدلے.

"ددې نظريې منونکي وائي چې په اوان کښې اوازونه ډېر اورېده وو خو د انساني فطرت (مادي ایجاد و تقليد) په وجه د انسان جمالياتي ذوق پرمختګ اوکړو او دا اوازونه لنډ لنډ شول" [10]

دا ټولې نظريې د ژبې د څۀ برخو په حقله معلومات ورکولے شي ولې ټول په ټوله ترينه یوه ژبه سازيدل ګران کار دے.

الهامي نظریه:

د انسان جوړښت په بنيادي توګه د دوه غټو توکو نه شوے دے ماده او روح. ددې دواړو د یو بل سره ژور تعلق دے. د روح اثر په ماده او د مادې اثر په روح باندې وي. د انسان د وجود نه مخکښې روح موجود وو. ژبه د الهامي نظرئې سره ډېر تړون لري هغه ځکه چې په وجود کښې غټ کار د روح وي او بې د روح نه انسان ژوندے نه شي پاتے کېدے. که انسان یو اړخ ته د بهيميت سره تړلے شوے دے چې د خپل جسماني غذا بندوبست اوکړي نو بل اړخ ته د روحانيت سره هم کلکې اړيکې لري چې خپل تعلق د الله پاک د پاک ذات سره جوړ کړي.

د دُنيا ټولو مخلوقاتو ته الله پاک الهام کوي لکه د ګبينه مچو ته چې د الله پاک له اړخه الهام شوے دے، د کورونو سازولو، د رنګ رنګ مېوو خوړلو، د الله پاک په لارو کښې د تللو، څنګه به ګبين يعني شهد جوړول وي. په دې اړ کښې صفا ساتلو له ساتونکي مچۍ ولاړې وي او ګبين ته هېڅ قسم ګنده شيان نه پرېږدي لکه:

" او ستا رب د ګبينه مچو تۀ په زړۀ کښې دا خبره واچوله چې تاسو په غرونو،

ونو او لوړو چتونو کښې کورونه جوړوئ. د الله پاک د مېوو نه خوراکونه کوئ

او د خپل رب په جوړو شوو اسانو لارو کښې تله کوئ. د دوي د خېټې نه د څښلو

رنګ په رنګ اوبه راوځي چې خلقو له پکښې شفا ده. بې شکه په دې هر څه کښې د عقل د خاوندانو د پاره نخښې دي"[11]

د دُنیا په مخ چې څومره پیغمبران علیه السلام یا استازي الله پاک استولي دي. هغوي ته په روحاني توګه د الله پاک د اړخ نه وحي شوي ده. د علمونو بهیر الهامي دے هغه ځکه چې پیغمبر د الله پاک یا د هغهٔ د استازو په کلام پوهه لري. دا پوهه الله پاک دوي له ورکړې ده که چرې د دوي سره د علم دا حس نه وے نو په دغه کلام به څنګه پوهېدلو او خلقو ته به ئې څنګه د هغې وعظ او تبلیغ کولو. ګو چې ژبه د هر انسان په خټه کښې اغېړلے شوې ده.

په الهامي نظریه کښې ټول علوم د الله پاک د اړخ نه خپلو پیغمبرانو، لوړو خلقو او سپېڅلو مشرانو تهٔ ورکولے کېږي. کله چې د انسان زېږون نه وو شوے ټول ارواحونه د وړو وړو مېږو په شکل کښې وجود لرلو. الله تعالٰي د ټولو نه په عالم ارواح کښې دا رنګې وعده اخستې وه چې:

" اے ستاسو رب (پالونکے) زهٔ نهٔ یم؟ بې شکه ولې نهٔ" [12]

دغه وخت چې کله د انسان زېږون لا شوے هم نه دے ولې خپل رب ته دا رنګې جواب ورکوي:

ددې نه دا معلومه شوه چې ژبه د انسان د زېږون نه هم مخکښې د دوي په ارواحونو کښې سنبهال پرته وه.

قران مجید یو الهامي کتاب دے په دې کښې چې د الله پاک، انسانانو او فرښتو په مېنځ کښې کومې خبرې اترې شوې وې، دغه هم په ډاګه کوي چې الله پاک انسانانو او فرښتو ته د زمکې د شیانو نومونه اوښودل او بیا ئې د دوي نه غوښتنه اوکړه لکه:

" او الله پاک ادم علیه السلام تهٔ د ټولو شیانو نومونه اوښودل او بیا ئې دا ټول

شیان د فرښتو په مخ کښې وړاندې کړل او وفرمائیل ئې، چې که تاسو په خپله

خبره کښې رېښتوني یئ نو ددې شیانو نومونه اوښایئ؟"[13]

دا نومونه الله پاک ادم علیه السلام او فرښتو ته یو شان ښودلي وو. د فرښتو په فطرت کښې ددې شیانو څه اهمیت نه وو ولې د ادم علیه السلام ددې سره تعلق او په کار راوستل وو. ځکه الله پاک ددې شیانو په حقله د فرښتو او ادم علیه السلام نه پوښتنه اوکړه نو فرښتو ددې نومونه بیان ونهٔ کړے شو او ادم علیه السلام دټولو نومونه بیان کړل. ځکه ورته ټولو فرښتو د عزت سجده اوکړه او انسان ته د غوره والي او خلیفه حېث مېلاو شو. د الله پاک، فرښتو او د ادم علیه السلام خبرې اترې مونږ ته دا خبره په ګوته کوي چې د ژبې یو شکل موجود وو.

د پیدا کېدو سره الله پاک انسان له د خبرو اترو کولو بندوبست هم وکړو چې یوه ځانګړې خوبي ده. په کومه خوبۍ چې انسان خپل خیال سوچ، فکر، فلسفه، ارادې او نظرئې نورو انسانانو ته په ښه توګه رسوي. د ژبې په حقله الله پاک د قران مجید په سورت الرحمان کښې فرمائي:

" الله پاک انسان پیدا کړو او د خبرو اترو چل ئې ورته هم اوښودلو" [14]

دغه رنګي الله پاک داسي يو کلے يا يوه ټولنه نه ده پيداکړي چه هلته ئي خپل يو يرونکے او زيرے ورکونکے نه وي لېږلے په دې لړ کښي الله پاک په قران مجيد کښي فرمائي:

" هر يو قوم له يو لارښودونکے شته "[15]

هر قوم او ډلي لره الله پاک لارښود خوامخواه رالېږلے دے چي لارښودونکے شته نو د ژبي پکارول ورله هم مهم دي. دا دنيا د انسان د پاره د اخرت يو پټے دے. انسان چي دلته څه کوي د هغي بدله ورته مېلاويږي. ښه اعمالو کولو له يو رهبر يو رهنما او يو کوټلي لاره يا دين پکار دے چي په هغي انسان عمل وکړي او کامياب شي. په قران مجيد کښي الله پاک فرمائي:

" او مونږ داسي يو کلے يا قوم نه دے پرېښے چي په هغي کښي مونږ خپل يو

يرونکے پيغمبر نه وي لېږلے "[16]

الله پاک انسان له يو شمېر نعمتونه ورکړي دي. چي پکښي د استوګني ځاے، وني، بوټي، مېوے، خپل خپلوان، او د ټولو نه غټ نعمت د انسان د وجود جوړښت دے چي په هغي کښي د وجود يوه برخه هم بي کاره نه ده جوړه شوي. هره برخه خپل کار لوبوي. د ژبي د وينا په حقله چي کومه برخه کار کوي د هغي په حقله په سورت البلد کښي الله پاک فرمائي:

" اے نۀ دي ګرځولي دۀ لره مونږ دوه سترګي، ژبه او شونډې "[17]

يعني الله پاک د انسان د جوړښت په حقله وائي چي ايا مونږ تاله سترګي نۀ دي درکړي چي په هغي ته اوګورې او مشاهده اوکړي او دغه شان ما تاله ژبه او شونډې نۀ دې درکړې چي په هغي تۀ ښه ښه ويناګاني وکړې.

دغه شان په قران مجيد کښي يو بل ايت کريمه دے د هغې نه د انسان خبرو کولو طرف ته جوته اشاره شوي ده. الله پاک فرمائي:

" دا خلق کانه دي، چاړاګان دي او ړانده دي "[18]

ثابتيږي چي چاړه خو ژبه نۀ شي وئيلے نو الله تعالٰي ورله زورنه ورکوي چه دوي د خپل عقل نه کار ولي نۀ اخلي. دغه شان هغه خلق چي ژبه لري د ګويايي طاقت هم لري خو بيا هم په دغه ژبه ښه وينا نه شي کولے نو ددې خلقو مثال په شان ددغه چاړاګانو دے.

الله پاک په هر څه پوهه او قدرت لرونکے ذات دے. د هر قوم د خلقو ضرورتونه ورته ښه معلوم دي. د ټولو نه غټه اړتيا خلقو ته د ژبي وي. کله چي خلق د يو بل په خبرو اترو نۀ پوهېږي هغه بيا د ډېر غټي ستونزے سره مخ وي. الله پاک هرې ټولني او خلقو له د هغو د مزاج لاندې ژبه او لارښود ورکړے دے. په قران مجيد کښي الله پاک فرمائي:

" مونږ نۀ دے لېږلے يو رسول مګر لېږلے دے په ژبه د قوم د هغه کښي ددې

له پاره چي دوي ته د الله پاک دين بيان کړي "[19]

ددې ايات کريمه نه دا خبره هم څرګندېږي چې ژبه د الله پاک د اړخ نه يو الهامې تحفه ده. په دې حقله امام سيوطي رحمت الله لېکي چې:

> "حضرت ادم عليه السلام ګړدو بشري ژبو له يو دفتر ساز کړے وو او د هرې ژبې ئې د خټو ځانګړې تختۍ اوليکلې او د خټو په بټۍ کښې ئې پخې کړې او کله چې نړيوال طوفان راغے دا تختۍ اوبو يو خوا بل خوا يوړې چې کومه تخته کوم ځاے پاتے شوه. هغه د هاغه ځاے ژبه جوړه شوه" [20]

ددې پورته اياتونو نه دا خبره څرګنده شوه چې هرقوم له يو لاربښود موجود دے. دغه شان ژبه الهامې ده که هغه په قران مجيد کښې ده ، په انجيل کښې ده، په تورات کښې ده، په زبور کښې ده او که په نورو صحيفو کښې ده. ځکه هر يو پېغمبر د الله پاک پېغام د هغه مخلوق ته د هغو ي په ژبه کښې رسولے او بيان کړے دے.

.

حوالي:

---

1 . Laurence, Charles, Barbar, “the story of language”, Pan Books Limited, 1972, P 20

2 . Mario, A Pie and Frank Gaynor, “Dictionary of Linguistics”, 1954

3 ۔خلیل صدیقی ، "زبان کیاہے"، اشاعت دوم، بکسن بکس گلگشت ملتان، ۲۰۰۱ء، ص ۱۴

4 . Genesis, Chapter 11, “Tower of Bible”, 1-9

5 . خٹک، خالد خان، ڈاکٹر، "سندھی، پشتو، اردو کے لسانی روابط"، پشتو اکیڈمی پشاور، ۲۰۰۷ء، ص ۲۰۔

6. بشري اکرام ، ډاکټر، "ژبپوهنه"، فاسټ ټريک کميونيکيشن، پېښور، ۲۰۱۸ء، مخ ۴۱

7. سروري، عبدالقادر، "زبان او علم زبان"، مترجم پروفيسر ډاکټر نصرالله جان وزير "ژبه او ژبپوهنه"، فاسټ ټريک کميونيکيشن، پېښور، ۲۰۱۸ء، مخ ۲۲

8. صفدر علی ، پروفیسر، "اردو لسانیات"، فاروق سنز، الکریم مارکیٹ، اردو بازار لاہور، س ن، ص ۱۵۷

9. Barbar.C.L, “The story of Language”, Pan Books ltd, London, 1972, P 31

10. بشري اکرام، ډاکټر، "ژبپوهنه"، فاسټ ټريک کميونيکيشن، پېښور، ۲۰۱۸ء، مخ ۴۲

11. القران، سورة النحل، پاره نمبر ۱۴، ايت نمبر ۶۸-۶۹

12. القران، سورة الاعراف، پاره نمبر ۰۹، ايت نمبر۱۷۲

13. القران، سورة البقره، پاره نمبر ۰۱، ايت نمبر ۳۱

14. القران، سورة الرحمان، پاره نمبر۲۷، ايت نمبر ۳-۴

15. القران، سورة الرعد، پاره نمبر۱۳، ايت نمبر۷

16 . القران، سورة فاطر، پاره نمبر۲۲، ايت نمبر ۲۴

17. القران، سورة البلد، پاره نمبر ۳۰، ايت نمبر ۸-۹

18. القران، سورة البقره، پاره نمبر ۰۱، ايت نمبر ۱۷۱

19. القران، سورة ابراهيم، پاره نمبر۱۳، ايت نمبر ۰۴

20. ځېرنيار، رفيع الله نيازي ،"په پښتو کښې د ګرامر ليکنې تاريخي بهير"، دعلومو اکاډمي، د خپرونو رياست، افغانستان، ۱۳۹۰ لمريز، مخونه ۴۹-۵۰